ولي الله ملکزی

۲۰۱۹/۱۲/۱۲

# تشې ډولۍ او ډک تابوتونه

حاجي صیب عمر ګل، کورونا ته د شیشکي وینه وایي. کله چې د موټر دروازه خلاصوي نو د بسم الله سره جوخت، چین ته یوه اپلته ور وشړي. د ده په قول، د ماښام د ښاپیرکي سوپ دوئ نوش جان کړ او ژوند یې زموږ پیکه کړ. په واقع کې دلته به ودونه وو، سنت ګرۍ به وې او د پیداینت د ورځې په بهانه به رقم رقم نخرې وې. چا به د پیرنګیانو سرې برګې نیکټایي ګانې اچولې وې او چا به پکول په سر او پټو له ځانه را تاوو کړې وو. یکه دوکه ځوان به د سټیج په سر جلالي شو چې زه په پښتو او پښتونواله باندی سر ورکوم. از هر چمن سمنی.
خوا مو بده نه شي، اوس دا نکلونه او متلونه هم کم رنګي او د کاني په ځای د یخ په کونده لیکل شویدي. پخوا به مشرانو ویل چې خپل، خپل او پردي په ډیرو نارو خپل دي، خو اوس خبره اپوټه ده، خپل هم پردي ګڼل کیږي. د الحاج مشر ځوی نیمچه ډاکټر دی، کله چې خوارکی سهار وختي له شفاخانې راشي، نو مور یې له اشپز خانې ور غږ کې: ادې دی جار سه، ورشه پاک ولامبه بیا راشه چې ځټ دی ښکل کړم.
الحاج، نن پاو بالا دولس بجې د کور مخ ته اول د موټر هارنډ را وواهه، بیا لا دقیقه تیره نه وه مس کال یې راکړ چې شابه نن زموږ وړوکي جومات ته ځو چې اول جماعت رانه ولاړ نسي. خوله او پوزه په تربوزک او لاسونه یې په آبي دستکشو پټ کړي وو. خدای دی خیر ورکړي تر مسجده یې ګړ ونه کا، ځکه د جمعې په ورځ له کوره تر جوماته تګ، د عبادت برخه وي. کنه نو د نصرت فتح علي خان د دمادم مست قلندر، لعل شهباز قلندر مسته قوالي یې د پل مټک د نصوارو په څير عمل دی. بله دا چې حاجي صیب په ځوانی کې د چاري پسونو لمان خوړلي او هره شپه د کولسترولو یوه لپه ګولی خوري، نو زه هم ورسره خبره نه ورغبرګوم.
جومات کې خلک د ښاري قوانینو له مخې، یو یو ګز لرې ولاړ او هر چا له ځان سره خپل جاینمازونه راوړي وو. لږه شیبه وروسته د جومات اصلي امام، دویم جماعت ته پاتې شو او یو ځوان قاري صیب ته یې د امامت کولو اشاره ورکړه. حافظ صیب چې ځومره د برکت الله سلیم صیب په سبک، ښکلی تلاوت کوي هغومره خنده رویه او خوش لباسی شازلمی دی. د منبر په سر ودرید، له قبضې څخه یو پوټې وړې ږیرې باندې یې لاس تیر او له جیبه یې د خطبو کتاب راوویست. د پنځو دقیقو خطبه ټوله په عربي وه چې له یو څو عربانو پرته، شاید د ناستو خلکو سر وربانډی نه وي خلاص شوی.
په پای کې یې هغه لیکل شوی دعا ولوستله چې زموږ اکثره امامان صاحبان یې په متحد المال ډول وایي، خو قاري ګل یوه جمله ور زیاته کړه (السلطان ظل الله فی الارض، من اهانه، فقد اهانه الله - پاچا په مځکه کې د الله سیوری دی، که څوک د هغه بی قدري وکړي، نو الله به یې سپک سپاند او مختوری کړي) له دوه رکعته سنتو پسې ډیرې خلک دعا ته ونه دریدل او هر سړی په بیړه روان شو. کله چې موټر ته راغلو نو د حاجي صیب موډ دا ځل بدل وو.
اول یې دغه بی دعا بې نفا خلک وهابیان وبلل چې ولې له دعا وتښتیدل؟ بیا یې له قاري صیب څخه ګیله وکړه چې وه د الله نیکه بنده، دغه دعا خو په ترکیه کې عثماني سلطان، سلیمان قانوني پنځه پیړی وړاندی د خپل سلطنت د بقا لپاره پخپلې امپراتورۍ کې په ټولو امامانو باندی واجب کړې وه. اوس سلطان له کومه شو او د عدالت سیوری یې چیرته دی؟
موږ خو په داسی یو ملک کې اوسیږو چې د ټولې نړۍ ستر جمهوریت همدلته دی. د دی ځای خلک خو د پاچا، امیر، شاه، اعلیحضرت، عالي جاه، عالم پناه او والا حضرت نومونه په ډرامو او فلمونو کې ګوري یا یې شاګردان د تاریخ په مضمون کې لولي. ولسمشر مو په پخه تیره انتخابات بایللي، مګر تر هغي یې نه مني، ترڅو د قاضي القضاة له خولې یې نه وي اوریدلي. لا د ترافیک سرې اشارې ته ولاړ وو چې عمر ګل، د قاري، ملا او عالم تر منځ فرق ته پام شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

قاري او حافظ، ډېر کله عالم نه وي بلکي يواځی د الله تعالی کتاب يي حفظ کړی وي، ښه ذهن لري او خوږ قرائت کوي. ملا صيب، معمولا د کلي هغه روحاني شخص ته ويل کيږي چي په مسجد کي پنځه وخته امامت کوي، د ګاچ يا ململ ښايسته پټکي په سر او د ضرورت په وخت کي دم تعويذ هم کوي. قدوري، خلاصه، نور الايضاح او د سعدي ګلستان يي زده او د خپلو مقتديانو د جنازې او نکاح شرعي احکام سرته رسوي. عالم بيا هغه چا ته ويل کيږي چي خپله تنکۍ ځواني يي د صرف او نحوې، د منطق صغری او کبری، د فقهي، اصول فقهي، د حديثو دورې او د جلالين او طبري د تفسير زده کولو ته وقف کړي وي. بيا خپله توره ږيره، د مفتي مقام ته د رسولو په اوږدې لپارې کي سپينه کړي.
عيني واقعيت خو دا دی چي ربښتيني عالمان، د حضرت پيغمبر(ص) وارثان او زموږ د ټولني ډېر ارزښتناک قشر دی. ځوک چي د دوئ حيثيت نفی کوي او د تجريدولو هڅه يي کوي، هغه به حتما د خپلې ټولني څخه بيګانه وي او يا به له دين سره عقده لري. بل حقيقت دا دی چي په هيواد کي د رواني کور ړنګي جګړې دواړه خواوې د الله کلمه ګو او د دی خاورې بچي دي. يواځی وړمه ورځ مو د ځوانيمرګي ملالي، محمد طاهر او نهو نورو هيواد والو د ډکو تابوتونو انځورونه وليدل. په هديره کي د درې رنګي ملي بيرغ ترڅنګ، سپينه جنډه هم رپيده چي (لا اله الا الله محمد رسول الله) ور باندی ليکل شوې وو. چا قبرونه کيندل او چا پرې اوښکې تويولې. د هر لوري ټپ او درد، نور د زغم نه دی.
همدا تيره جمعه، د شينوارو د جودرې په جومات کي د ۷۲ شهيدانو د تلين يو کال پوره شو. له دوئ څخه درې درجنه بورې ميندې او دوه درجنه ځواني کونډې پاتي شوې. ځيني يي لا د واده د شنو بنارسيو او سرو نکريزو په تمه وې. هيڅ چا ته پته نشته، د دغو سپيڅلو شهيدانو قاتل به د محشر په ورځ، خپل پيغمبر ته په کومو سترګو وايي چي: زه خو ستا امتي يم، زما شفاعت وکړه.
کاشکي! زموږ قدرمند خطيبان د (السلطان ظل الله) په ځای د (القتال بين المسلمين حرام) خطبې ولولي تر څو تشې ډولی له ګلاليو ناوو څخه ډکې، خپلو نوو کورونو ته په اوږو يووړل شي.
---------------------------------------------------------------
يادونه: عمر ګل، د حاجي صيب مستعار نوم دی خپل يي بل دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پاژوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ